تنظیم : م. نظام

۲۰۱۹/۰۷/۲۵

# د احمد ظاهر درې میرمنې «ناجیه، خالده، فخریه»




ناجیه په احمد ظاهر ګرانه وه، په مینتوب یې واده کړی وه. د احمد ظاهر نیږدې ملګري وایي: ناجیه غوښتل چې احمد ظاهر د خپل غږ له ښځینه مینه والو سره هیڅ ډول اړیکه ونه پالي. همدا اختلافات د دوی د بیلتون سبب شو.

د احمدظاهر ملګری صفی اله ثبات د هغه او ناجیه د بیلتون کیسه داسې کوي: « احمد ظاهر راډیو کې سندره ثبتوله، ثبت ته تیاری روان وو چې یو ملازم سټډیو ته ننه شو. احمد ظاهر ته یې وویل چې دباندې یې ورسره کار دئ. هغه ورسره ووت، شل پنځه ویشت دقیقې وروسته بیرته راغی، اوښکې یې سترګو کې ډنډ وې، یو کاغذ یې لاس کې وو، کاغذ یې ورمړه او زما پرمخ یې ګذارکړ، وېې ویل واخله! ما چې کاغذ پرانیست او ومې لوست، ناجیه ورځخه طلاق غوښتی وو.» احمد ظاهر په دې اړه ژوندون مجلې سره مرکه کې ویلي: « د ښځې بیلتون مې ډیر ځوروئ. د توافق او سازش نشتوالی زمونږ د جدایې اصلی سبب وو، او زه له دې ناحیې ډیر ځوریږم، ډیر زیات!» احمد ظاهر د رشاد په نامه له ناجیه یو ځوی لري. ناجیه د ۶۱ کلنو په عمر، امریکا کې د ورپیښې ناروغۍ له کبله وفات شوې.

دویمه میرمن یې خالده نومیده. خالده په احمد ظاهر مینه وه، خو هغه نه غوښته. د احمد ظاهر ملګری صمد دار وایي: «دولت په زوره ور نکاح کړه، جبري! لومړی ځل یې چې نکاح تړله، احمد ظاهر له نظارت خانې کورته وتښتید، خو حکومت بیرته ونیوه، بیا تر نظارت لاندې وو. یوه اونۍ بندي وو، د سر ویښتان یې پرې وخرېل، نینواز ضامن شو او دی بیرته آزاد شو. خالدې ته یې بیا بېل کور ونیوه.» په دې اړه د پغمان پخواني ولسوال اسماعیل محشور چې د خالدې د دوسیې د څیړلو د پلاوي غړی وو، په خپلو لیکنو او رسنیو سره په



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

خبرو کې په زړه پورې څرګندونې کړي چې کېمټ يې راخلو: « احمد ظاهر د ۱۳۵۳ کال د کب په ۱۹ نېټه د خالدې په نوم د يوې ميرمنې د عريضې له کبله د کابل، ولايت ته جلب شوی وو. زه تازه د پغمان ولسوال ټاکل شوی وم، په همدې موخه ولايت ته د ځينو اداري کارونو د بشپړولو له پاره تللی وو، خو هلته د کابل والي اروابناد محمود حبيبي راڅخه هيله وکړه چې د دندې له پېل وړاندې د خالدې دوسيه وڅېړم. خالده د احمد ظاهر د زرګونو پلويانو او مينه والو له ډلې څخه وه چې له احمد ظاهر سره يې ليونی مينه درلوده. عرض يې دا وه چې احمد ظاهر سره يې دوستي ډيره وړاندې تللې او اوس ورڅخه ګېډه کې ماشوم لري، ځکه نو احمد ظاهر بايد ورسره واده وکړي. د خالدې پلار ډګروال پَرګُل چې يو وخت کندز کې د ژاندارم قوماندان وو، ډير لجوج او منفعت طلبه انسان وو. هغه له څېرنو وړاندې غوښتل چې احمد ظاهر ده ته وسپارو چې په خپله خوښه سزا ورکړي، د احمد ظاهر پلار ډاکتر ظاهر او دهغه کورنی يې ښکنځله. احمد ظاهر انکار وکړ او د خالدې ادعا يې رد کړه. هغه ټينګار کاوه چې د ده او د ماشوم وينه دې طبی معاينه شي اود څو تنو نورو د وينې د معاينې غوښتنه يې هم وکړه. دا يوه ډيره پيچلې حقوقي او جنايي دوسيه وه. مونږغوښتل موضوع د څېړنې له پاره عدلي طب ته راجع شي، خو د ولايت لخوا مخالفت وشو. زه يې د دوسيې له څېرنې وښکلم، پغمان ته لاړم او خپله دنده مې پېل کړه. څه موده وروسته خبر شوم چې خالده يې احمد ظاهر ته په نکاح کړې ده. په هر ملحوظ چې وو، احمد ظاهر خالدې سره نکاح وتړله، هغې ته يې په شيرپورکې د حاجي نازکمير په تعمير کې کور کرايه کړ، خرڅ يې د دريمګړي سړي په لاس ورليږه، خالدې سره يې قطعاً اړيکې پرې وې.

زه د ۱۳۵۳ او ۱۳۵۴ کلونو ترمنځ پغمان کې ولسوال وم. پغمان د افغانستان په تيره بيا د کابل د خلکو ميله ځای ده، هلته به خلک راتلل، زه به خبريدم چې څوک ځي او راځي، په هغه ډله کې احمد ظاهر هم وو. د ۱۳۵۴ کال د سرطان مياشت په نيمايې کې ماته د کابل د والي زنګ راغی، راته وې ويل چې يو مجهول الهويه جسد د پغمان ولسوالی په مربوطاتو کې موندل شوی. هغه وخت که څوک له کابله شمالي ته تلل نو د خيرخانې کوتل سر ته په رسيدو، ښی لاس د شکردره او کيڼ لاس د پغمان ولسوالی اړونده سيمې بلل کيدې، چې همدا د چمتلې دښته ده.

جسد د کوتل کيڼ لور کې موندل شوی وو.د موضوع په ارتباط مې د ولسوالی په استازيتوب يو تن له څارنوالی څخه ولايت ته واستاوه. دوه ساعته به نه وو تير شوي چې د ولسوال زنګ راغی او په وارخطايی راته وويل چې احمد ظاهر خالده وژلې او خپله تښتيدلی ده، دا زما او ستا دنده ده چې هغه ونيسو. ما ورته وخندل چې احمد ظاهر نه ده تښتيدلی، هغه له سهاره تراوسه همدلته پغمان کې ده. د دې خبر په اوريدو والي خوشاله شو او وې ويل چې له مرکزه کسان راليږي ترڅو احمد ظاهر ولچک کړی کابل ته راولي. زه هم د والی په امر له دفتر څخه ووتم د طاق ظفر په لور وخوځيدو. کاته مې چې له پاسه د احمد ظاهر فولکس واګن موټر زمونږ خوا ته را روان ده. غوښتل يې چې له مونږ تير شي خو موټر مو ودراوه. زه يې وپيژندم له موټره ښکته شو او په ټوکه يې راته وويل: «خيريت ده باداره! بيا خو به چا عرض نه وي کړی چې ما احمد ظاهر ته په نکاح کړې؟!» ما ورته وويل: هيڅا نه، خبر شوم چې پغمان ته راغلی يې، ما ويل لږ دې وګورم. هغه وويل: «والله اوس وخت نه لرم! ميلمانه هم راسره دي» په هرصورت احمد ظاهر مو ولسوالی ته راوست. له هغه سره درې ملګري وو، يو نارينه دوه ښځې. يوه يې فخريه نوميده چې د احمد ظاهر ملګرې وه، بل د محمد قاسم په نامه عکاس وو او

ورسره د شفیقي په نامه د هغه ملګري. ولسوالی کې مې احمد ظاهر ته چای راوغوښت. له هغه مې د خالدې په اړه پوښتنه وکړه چې ترې خبر ده کنه؟ ظاهر په ډېرې کرکه وویل چې ترې نه ده خبر. ما ورته وویل که ناروغه وي؟ وېې ویل بلا مې ورپسې! پنځه دقیقې وروسته مې بیا وپوښته که داسې احوال راشي چې خالده تپی شوی؟ وېې ویل: ما ته هیڅ مانا نه لري! ورته ومې ویل: ظاهرجانه که کوم څوک راشي او درته ووایي چې خالده وژل شوې ده بیا؟ ناڅاپه يې وویل: نه! زه د هیڅ ځوان په مرګ نه خوشالیږم! ما ورته وویل چې مه وارخطا کیږه، ژوند کې دا کیسې وي، خالده وژل شوې ده او ته یې قاتل نیولی يې. د احمد ظاهر بڼه بدله شوه، د چای پیاله یې کېښوده او وېې ویل: تاسو یې منئ؟ ما ورته وویل چې پوره شواهد نه وي موجود، نه یې منم! لږ وخت وروسته له کابل څخه د پولیسو قوا راورسیده، احمد ظاهر یې ولچک کړی موټر کې کښیناوه او کابل ته یې بوته.

په سبا یې د والي لخوا کابل ته احضار شوم، هلته د خالدې پلار پرګُل خان شوربګډ جوړ کړی وو چې زما قاتل ډاکتر ظاهر او خپله احمد ظاهر ده. د موضوع د څېړنې له پاره د والي تر نظر لاندې یوه هیت وټاکل شو چې هغه کې د کابل ولایت د څارنوالی ریس محمد امین حایل، د کابل ولایت جنایی آمرسمونیارعبدالرب او زه محمد اسماعیل محشور شامل وو. د هیت ټول غړي په دې باور وو چې احمد ظاهر قاتل نه ده. والی هم زمونږ نظر درلود، خو هغه نه ښوده. موضوع ډېره پیچلې وه، مجبوره شو پولیسي تعقیب وکړو، د خوبان په نامه مو یوه میرمن چې د خالدې خورلنه وه او کور ته یې هر وخت تله راتله تر تعقیب لاندې ونیوه. خوبان چې وړوکی ماشوم درلود ډېره ناکراره وه او ویل یې چې خوشې یې کړو. د جنایي آمرهڅه وکړه چې له هغې خبرې واخلي، بلاخره خوبان وویل چې ما ته به څه نه وایې! هغې سره موهسې ژمنه وکړه او د حشمت په نامه یې یو کس چې کارته چهار کې اوسیده مونږ ته په ګوتو راکړ. حشمت جلب شو، هغه بې حده لجوج سړی وو، سپکې سپورې یې ویلې، له همدې کبله هیت ولچ کړ. خوبان بیا تر څارلاندې ونیول شوه. خوبان مو د هغې د ماشوم له پاره په ضمانت خوشې کړې وه. هغه مو بیا وپوښتله بلاخره یې اقرار وکړ چې حشمت خالده وژلې ده. حشمت څخه بیا تحقیق پیل شو، اقرار یې نه کاوه. اوه شپې وروسته په خبرو راغی او ویل یې چې خالده د ده او خوبان د مینې ترمنځ خنډ وه، ځکه یې له مخې چپ کړې. دا دوسیه ډېره پریږه او وزمینه وه، شاوخوا اوه نیم سوه پاڼې یې درلودې. په دوسیه کې راغلي چې یوه شپه خوبان او حشمت له یو چا څخه یو موټر اخلي، بیا دوی درې واړه د باغ بالا هوټل ته ځي هلته شراب اخلي او هغه څښي، بیا له هغه ځایه حرکت کوي چې شمالي ته لاړ شي، د لارې په اوږدو کې پداسې حال کې چې غرق نشه وي، د خیرخانې کوتل د سړک له غاړې دیوال باندې درې واړه کښیني.(حشمت نومي له خالدې او خوبان دواړو سره اړیکي درلودې، چې خوبان له دې ناحیې ځوریده) حشمت خوبان ته وایي : ووایه چې ماسره مینه لرې! خوبان هغه ته وایې: ته یې واویه چې ماسره مینه لرې! هغه ورته د مینې اقرار کوي، خوبان یې ټینګوي چې ورته ثابت یې کړي؟ هغه چاړه راباسي او د خالدې په ټټر څو ګذاره کوي، خوبان ته وایي چې زمونږ د مینې دښمنه همدا وه دا ده ثابته مې کړه او خالده وژل کیږي. دوی د خالدې جسد د سړک له غاړې شاړې ځمکې ته کشکاږي او خپله مخه کوي.

مړي څنګه پیدا شو؟ هغه داسې چې د کابل ولایت د زراعت مدیر د کوم کار له پاره کاریزمیر ته تللی يې، له هغه ځایه چې بیرته راګرځي په لار کې جسدویني، ولایت ته زنګ وهل کیږي او بیا هغوي مونږ سره تماس نیسی چې په دې ترتیب جسد پیدا کیږي.» خالده د کابل په شهدا کې ښخه شوې.

فخریه د احمد ظاهر دریمه میرمن وه. وړاندې یاده شوه، کله چې احمد ظاهر د خالدې د قتل په تور پغمان کې نیول کیږي، هغه سره موټر کې د فخرېې په نامه یوه میرمن هم وه. فخرېې هغه مهال له ولسواله غوښتې وو چې احمد ظاهر سره بې باید ژر تر ژره نکاح وتړل شي. هغې ځخه د ځیرنو پایله کې ځرګنده شوې وه چې د هارون په نامه یو کس سره بې له وړاندې نکاح تړل شوې وه. وروسته چې بیا احمد ظاهر له زندان ځخه آزادیږي، له فخرېه سره رسماً واده کوي. فخریه اوس امریکا کې ژوند کوي او د شبنم په نامه یوه لور لري. شبنم د احمد ظاهر د مرګ په ورځ زیږدلې.

پداسې حال کې چې د احمد ظاهر کورنۍ او مینه وال، حفیظ اله امین او د هغه ډله د احمد ظاهر په وژنه تورنوي، د عدلیې پخواني وزیرعبدالحکیم شرعي جوزجاني ویلي چې ګویا امین، احمد ظاهر له زندان ځخه آزاد کړی.

عبدالرووف لیوال په دې اړه د نوموړي لیکنه داسې ژباړلې: «مخکې له دې چې د دهمزنګ له عمومی زندان ځخه لیدنه وکړم، اودعفوې د فرمان اود مجازاتو د تخفیف طرحه جوړه شی، یوه ورځ زما سکرتر نعیم خان راته وویل چې، نامتو سندرغاړی احمد ظاه رله یوه پولیس سره راغلی اوغواړی تاسو سره وګوری، سمدلاسه دعارضینو د هرکلی خونې ته ورغلم او احمد ظاهر مې راوغوښت، په ډیره مهربانی مې ورځخه وپوښتل:( تاسوته څه خدمت اومرسته کولای شم؟) هغه چې ډیرخواشینی اوناهیلی معلومیدو، راته یې وویل:( څوکاله کیږی چې، دخالدې نومې دوژنی په ناحقه تورېندی یم، د خالدې پلار پرګل ځائ چې له لوړپوړو چارواکو سره اړیکې لری، پرما دعوی کړې، دا قتل په ما پورې اړه نه لری، او تر اوسه دما د الزام په هکله هیڅ کوم مدارک اودلایل هم نه دی پیدا شوی، خوڅوک نشته چې زما شکایت واوری، په داسې حال کې چې قاتل معلوم دی اوپه خپل جرم یې اعتراف هم کړی، له تاسوغواړم که زما عرض واوری.)

د هغه عریضه مې ولوسته، همدا ټکی په ټکې پکې لیکل شوی و، دعریضې لاندې مې د کابل د محکمې رییس ته ولیکل (( دعارض شکایت دقانون سره سم وڅیرئ اوماته خبر راکړئ))

احمد ظاهر ته مې وویل، د خواشینی ځای دی چې تاسوغوندې نامتو سندربول په زندان کې وی، ستاسو ځای د هنرمندانوپه ډله کې تش دی، اوس داعریضه د کابل ولایت محکمې ته یوسه، زه ستاسو دعریضې اوخلاصون په هکله د قانون په رڼا کې اقدام او له هیڅ راز مرستې نه دریغ نه کوم. هغه مننه وکړه اوله پولیس سره یو ځای له خونې ووت.

سمدستی مې د احمد ظاهر دوسیه راوغوښته، خو د هغه دوسیه په آرشیف کې نه وه، وروسته معلومه شوه چې د هغه دوسیه د عدلیې وزارت په یوه لوی اومهم سیف کې ساتل شوې وه، دا سیف ډیر لوی او تقریباً یوټن دروند وو او په څو کلیانو د تخنیکی لاربښود نه وروسته خلاصیده. باشی (خانه سامان) له هغه رمز نه چې ورسره وو داسیف خلاص کړ، د احمد ظاهر له دوسیې سوا، دوه نورې دوسیې هم په سیف کې موجود وې، چې یوه یې د داوود خان د اساسی قانون دوسیه وه، چې وروسته له تصویب د پارلمان د ټولو وکیلانو لاسلیکونه پرې باندې ول.

دوهمه دوسیه هم د هغه شپږ تنو بزګرانو وه چې په رڼا ورځ د سرپل د بوغایی کلی د ځمکو د شخړې په سر د پارلمان وکیل کمال الدین خان اسحقزی د زوی اکبرخان له خوا سوزول شوی و، د دې دوسیې په لیدلو سره هک پک حیران پاتې شوم، ځکه ما فکر کاوه چې دا دوسیه به ډیره پنډه وی اوڅوزره پاڼې به لری، خوکه ګورم چې ایله ۲۰ تر دیرشو پاڼې یې درلودې، داسوزول یې مغلوبه جنګ بللی وو اوبس، د دوسیې په پای کې داسې انګیرل

کیده چې ګواکې دواړو خواوو سره سوله کړې وی اوکمال الدین خان حاضر شوی وو چې ۶۰۰ جریبه ځمکه د وژنې په پورکې ورکړی، تر څو د وژل شویو کورنۍ له خپلې دعوې نه انصراف وکړی.

دریمه دوسیه چې ډیره پنډه اوله زرو زیاتې پاڼې یې درلودې هغه د خالدې د وژلو دوسیه وه، چې خالده د احمد ظاهردوهمه ښځه او د پرګل ځاځی لور وه، د پیښې هغه انځور چې اخستل شوی وو د خالدې جسد یې په یوه تنګ او چسپ لباس کې ښوده، چې په بد رقم وژل شوې وه او په سینه یې د چړې څو ګوزارونه لیدل کیده چې د هغې زړه یې څیرلی وو.

د مستنطقینو په قول، خالده چې په احمد ظاهر یې زړه بایللی وو، غوښتل یې چې هغه سره واده وکړی، خو احمد ظاهر ترې ډ ډه کوله او د هغې ټینګارته یې په دې هکله بابیزه جواب ورکاوه، په پایله کې خالدې د کابل والی ته عریضه کړې وه چې له احمد ظاهرنه بلار به شوې او هغه مجبور دی چې له هغې سره واده وکړی، خو احمد ظاهر نه منله او ټینګ ووچې زما وینه دې د ماشوم له وینې سره معاینه شی. وروسته له ډیرې لانجې بلاخره احمد ظاهرد هغې سره واده ته اړسو او واده سرته ورسید.

خو په هغه شپه چې خالده دیوه ځوان له خوا د حشمت په نوم د چمتلې په دښته کې وژل کیږی، احمد ظاهر نه وو موجود او په دوسیه کې هم د احمد ظاهرهیڅ ډول اعتراف نشته، یواځې یوه ښځه دخوبان په نوم د قاتل د معاون په توربندی وه او هغې هم په څوعریضو کې ادعا درلوده چې د شکنجې په واسطه ترې اقرار اخیستل شوی او ویلې ووچې د خالدې وژل د احمد ظاهرپه لاربښونه شوی دی

شرعی وړاندی لیکی په هر حال ما موضوع له حفیظ الله (امین) سره شریکه کړه، او د احمد ظاهر په هکله د عفوې د فرمان اخیستلو په لټه کې شوم او د هغه نظر مې وغوښت او داسې مې ورته وویل [احمدظاهر د پښتو او دری سندرو په ویلوسره نه یواځې په افغانستان، بلکې په سیمه کې ساری نه لری. څومره به ښه وی که خلقی دولت د نوروهنرمندانو په ډله کې دا نومیالی هنرمند هم ولري]

امین هم د احمد ظاهرخوشې کیدلو ته لیوال وو، له مانه یې وپوښتل؟ آیا احمد ظاهر په دوسیه کې په قتل اعتراف کړی که نه؟ ما ورته وویل چې په دوسیه کې د احمد ظاهرهیڅ ډول اعتراف نه ده راغلی، سربیره پردې هغه په کومه شپه چې قتل شوی، دپیښې په ځای (چمتله) کې له سره نه وو.

امین وویل (په ریښتیا سره هغه په خلکو ډیرګران دی، زه هم دهغه د خلاصون طرفداره یم، افسوس چې داسې یو هنرمندپه زندان کې پاتې دی، دا کارماته پریږده، زه د هغه د عفوې فرمان له تره کی صاحب نه اخلم، تاسو هغه همدا نن د هغه کورته واستوی)

ما سمدلاسه د کابل دمحکمې رییس ته لاربښوونه وکړه چې، احمد ظاهرله زندان نه راوغواړی او همدا نن یې خپل کورته ورسوی او ورته ومې ویل چې دهغه د عفوې فرمان سبا تاسوته دراستول کیږی.

د عزیز نائبي له وال.

په تشکر د دعوت میدیا ۲۴ وبسایت